نورمحمد لاهو

۲۰۲۴/۱۰/۲۷

# تت شوی سیوری



هیڅ راغلي مساپر دې حال رانه وړ
نه یو لیک
او نه هم ستا د تور تورو خوږو سترګو یوه نخښه
ته به وایې دې جهان وې ادا هیر کړې
چې یې ته
لکه الماس زما له تاجه یې غلا کړې
هره ورځ
یادونه راشي و شغیږي
شینکی کږس ستا د خندا یې
په ځپو پورې چا نه وي غوټه کړی
او باران هم هسې راغی بیرته ستون شو
خو یو ځل یې هم ستا نوم په خولې وانخیست
تولو ونو خپل سرونه
انتظار کې
لاندې ځمکې ته ټیټ کړي
کاشکې کاشکې
هغه لیرې بیابان نه ، مرغۍ راشي
ها مرغۍ چې
له وزرونو یې د خاورو
او باران لامده عطرونه پورته کیږي
دغه سوې سوې زړه ته
ستا له مخه
یوه لپه رڼا راوړي
پیرۍ وشوې
د یادونو هغه سیورې باندې ژاړم
چې شیبه
شیبه یې
رنګ اوړي
تتیږي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ